ډاکتر محمدآجان مرزئ ۲۰۱۷/۰۱/۲۵

# پر ملي اقتصاد د مرکزي بانک د سود د نرخ اغېز

**سريزه**

اوس مهال په ځانګړې توګه په پرمختللو هېوادونو کې د مرکزي بانک د سوه نرخ ډېر ټیټ دی. د دې کار لامل په ۲۰۰۸/۲۰۰۹ کلونو کې مالي بحران و چې هېوادونه ئي له اقتصادي وبحاړتیا څخه د ژغورنې لپاره دې ته اړ کړل چې د مرکزي بانکونو د سود کچه تر ډېره حده ټیټه کړي. د اروپا د ټولنې د یورو په زون کې له ډېري مودې راپدې خوا د مرکزي بانک د سود نرخ نه یوازې دا چې لوړ شوی ندی بلکه د ټیټیدو په حال کې دی. اوس مهال په دې زون کې د مرکزي بانک د سود نرخ په سلو کې صفر دی. د امریکا په متحده ایالتونو کې د ۲۰۱۶ کال په لومړۍ نیمائي کې د دې سود کچه ۰،۲۵ ٪ لوړه شوه خو تر اوسه هم ډېره ټیټه او د ۰،۵۰ او ۰،۷۵ ٪ تر منځ ده. په نورو پرمختللو هېوادونو لکه جاپان (۰،۰۰ – ۰،۱۰ ٪)، بریتانیې (۰۲۵٪)، سویس (منفی۰،۲۵ – منفی ٪۰،۱۲۵)، سویډن (/0.35٪) کې هم د مرکزي بانک د سود نرخ ټیټ دی. (2016 - finanzen.net)

زه به په خپله دې لیکنه کې زیار وباسم چې د مرکزي بانک د سود د نرخ د ټیټې کچې لاملونه، د پرمختللو او هم مخ پرودې هېوادونو پر ملي اقتصاد د هغې اغېزې خرګندې کړم.

**لنډيز**

د مرکزي بانک د سود نرخ هغه نرخ دی چې سوداګریز بانکونه د هغه پر بنسټ له مرکزي بانک څخه پور ترلاسه کوي. دا نرخ په هېوادونو کې د پیسو د سیاست یوه بنسټیزه وسیله ده او د هغې په وسیله په ملي اقتصاد کې د پیسو پر اندازه اغیز غورځېدلای شي. په پرمختللو هېوادونو کې د سود د نرخ ټیټه کچه په منځمهاله او اوږدمهاله توګه هم د دې هېوادونو او هم د درشلیزو، مخ پرودې او نورو وروسته پاتې هېوادونو لپاره اقتصادي ستونزې رامنځته کولای شي. سره له دې چې د ټیټ سود ځینې پایلې په لنډمهاله توګه مثبتې دي، لکه د دولت د پورونو د سود د لګښتونو کمښت، د ټیټ سود له امله د ملي سکې د ارزښت د کمېدو له امله د مجموعی پورونو نسبي کمښت، خو دا خبره په عین وخت کې پر مستهلکینو ناوړه اغېزې هم لرلای شي، لکه له سپماوو د کمې ګټې ترلاسه کول، د تقاعد او د ژوند د بیمو د ارزښت کمېدل او داسې نور.

له همدې امله، کله چې د ټیټ سود د اقتصادي پایلو په هکله بحث کوو، باېد د موضوع دواړو خواوو ته وګورو، له یوه او بل سره یې پرتله کاندو او په پای کې د ملي اقتصاد لپاره نتیجې ترینه استنباط کړو. د پرمختللو هېوادونو په شان په درشلیزو او نورو مخ پرودې هېوادونو کې هم د دوس د نرخ د ټیټې ببې دوې خواوې کتلای شي. دا هېوادونه له یوې خوا د سود د نرخ د ټیټې کچې په مرسته پانګو ته په ارزانه بیه لاسرسی پیدا کوي او له بلې خوا د دې ګواښ هم موجود دی چې دا هېوادونه له خپل توان زیات پورونه ترلاسه کړي چې وروسته به یې د بېرته اداکولو توان ونلري.

**د مرکزي بانکونو د سود د ټیټ نرخ لاملونه**

په ۲۰۰۸/۲۰۰۹ کلونو کې له نړیوال مالي بحران څخه وروسته ډېرو بانکونو او مالي بنسټونو او په دې توګه تولیدي تصدیو او هم وګړو خپلې سپماوې او مالي وسیلې له لاسه ورکړې. نړیوال اقتصاد د راپرځېدو په درشل کې و. د تولید کچه ټیټه شوله، بیکاري زیاته شوه او په دې توګه په ملي اقتصادونو کې مجموعي تقاضا کمه شوله. په پایله کې د هېوادونو د ملي اقتصادونو د ودې کچه راوغوځېده او ملي اقتصادونه د دیفلاسیون پر لور روانه وو. په دې حالت کې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزي بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

پرمختللي هېوادونه دي ته اړ شول چې له ټولو د مخه د دولتي بودجې له لارې د اقتصاد د رغونې پر لور ګامونه ترسره کاندي.

پوښتنه دا ده چې دې هېوادونو باېد په دې حالت کې څه کړي واى؟ په دې هېوادونو کې په لومړي سر کې پر بانکونو ځيني بنديزونه ولګول شول او په ځينې هېوادونو کې بانکونه تر يوې مودې د حکومت تر اداري لاندې راوستل شول. دا ځکه چې د ۲۰۰۸/۲۰۰۹ کال د اقتصادي نړيوال بحران اصلي عاملين د نورو ترڅګه سوداګريز بانکونه او مالي شرکتونه وو. له بلې خوا بايد هېوادونو د کورنى تقاضا يا غوښتنې د لوړولو پر لور د خپلو مالي او د پيسو سياستونو په چوکاټ کې ګامونه ترسره کړي واى.

د پيسو سياست د مرکزي بانکونو له خوا طرح کېږي. دې بانکونو په لومړي سر کې د مرکزي بانک د سود د نرخ کچه ټيټه کړه. په دې توګه سوداګريزو بانکونو ته دا شونتيا برابره شوه چې د خپلو مالي معاملو لپاره له مرکزي بانک څخه په ټيټه بيه پور ترلاسه کړي.

د سود نرخ په واقعيت کې د يوې معينې مودې لپاره د پيسو د ترلاسه کولو بيه ده. بانکونه دا پيسې تصديو او وګړو ته د پور په توګه ورکوي او په دې توګه د يوې ټاکلې مودې لپاره له دې پيسو په خپله کار نشي اخستلاى. له بلې خوا د دې شونتيا موجوده ده چې د پوروركونكي، د بېلګې په توګه د سلو افغانيو حقيقي ارزښت يو يا دوه کاله وروسته د انفلاسيون له امله له سلو کم وي. په دې اړه يو بل عامل د پور ورکوونکي له خوا د ګواښ منل دي. سره له دې چې پوروركونكي د پور ورکولو پر مهال د پور اخستونکي په هکله د شونتيا تر حد مالومات ترلاسه کوي خو بيا هم دا شونتيا موجوده ده چې پور اخستونکى ونشي کولاى چې خپل پور ادا کاندي. پوروركونكى د دې ټولو عواملو په بدل کې له پور اخستونکي څخه د خپل پور په بدل کې سود ترلاسه کوي. دا سود هم په پانګوال نظام کې د نورو ټولو توکو او خدمتونو په شان تر زياته حده په بازار کې د عرضې او تقاضا پر بنسټ ټاکل کېږي. (کايزر، ۲۰۱۶).

په دې توګه ويلاى شو، کله چې د مرکزي بانک د سود کچه ټيټه شوله او د سوداګريزو بانکونو لګښت له دې امله کم شو نو په ملي اقتصاد کې پور اخستل ارزانيږي او کېداى شي چې په دې توګه تصدى او مستهلکين اضافي لګښتونو ته تشويق شي. مستهلکين د سود د نرخ د ټيټې کچې په حالت کې هم په استهلاکي او هم په نورو ځانګو کې د پيسو لګولو ته راپارېدلاى شي، د بېلګې په توګه د استهلاکي شيانو لکه موټرو او داسې نورو پېرودل. په دې اړه د آلمان حکومت خلکو ته د نوو موټرو په پېرودونه کې يو ډول غيرمستقيمه مالي مرسته ترسره کړه، چې د زړو موټرو د پاداش په نامه يادېدله.  له دې لارې وګړي د موټرو رانيولو ته تشويق شول او په پايله کې په ملي اقتصاد  کې مجموعي غوښتنه تر يوه حده زياته شوله. د ملي اقتصاد په يوه برخه کې د غوښتنې زياتېدل پر نورو ځانګو هم خپل اغېز غورزوي. د پرمختللو هېوادونو حکومتونو توليدي تصديو ته هم د خپلو بودجو په چوکاټ کې مرستې ترسره کړې. په بل عبارت هېوادونو په دې توګه د ملي اقتصاد د رغونې لپاره له مالي انبساطي سياست کار واخيست يعني دا چې خپل بودجوي لګښتونه ئې زيات کړل.

د مرکزي بانک د ټيټ سود کچه په اتوماتيکه توګه د دې لامل نه ګرځي چې بانکونه تصديو او وګړو ته د پورونو اندازه هم زياته کړي او يا برعکس تصدى او وګړي دې ته تشويق شي چې د خپل پور اندازه لوړه کاندي. د اقتصادي وېجاړتيا او بحران پر مهال تصدى او مستهلکين په مستقيمه او يا هم غيرمستقيمه توګه د خپلو عوايدو يوه زياته برخه له لاسه ورکوي، پر اقتصاد او اقتصادي پرمختګ باور کمېږي. د دې باور د بيا ترلاسه کول يوې مودې ته اړتيا لري. دا چې دا موده څومره دوام کوي د هېوادونو مالي او د پيسو د سياستونو پياوړتيا او هم د بحران په نتيجه کې له رامنځته شوو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ستونزو سره اړیکه لري. د تیوری له مخې د سود ټیټه کچه د دې لامل ګرځي چې په ملي اقتصاد کې د پیسو دوران زیات او په دې توګه ئې حجم د تولید شوو کالیو په پرتله زیاته شي. په دې حالت کې د عرضې د زیاتېدو له امله پیسې خپل ارزښت له لاسه ورکوي، بیې او په دې توګه د انفلاسیون کچه لوړېږي او ملي اقتصاد له دیفلاسیوني حالت څخه، چې د اقتصادي ویجاړتیا لامل ګرځېدلای شي، ژغورل کېږي.

د مرکزي بانک د سود د نرخ د ټیټې کچې په نتیجه کې د هېوادنو ناخالص کورني محصولات هم په اسمي توګه لوړېږي. د دې کار لامل د انفلاسیون له امله د نرخونو لوړېدل دي. کله چې نرخونه لوړ شول نو د کورنیو ناخالصو محصولاتو ارزښت هم په اسمي توګه لوړېږي. په دې توګه د دولت د پور کچه هم له ناخالصو کورنیو محصولاتو سره په تناسب کمېږي. له بلې خوا د انفلاسیون له امله لوړي بیې د دولت مالیاتي عوایډ هم په اسمي توګه لوړوي. دا کار هغه وخت عملي کېدای شي چې پانګه اچونکي د خپلو پانګو لپاره د سود د لوړې کچې غوښتنه ونکړي. دولت باید پر دې وتوانېږي چې پانګه اچوونکي ټیټ سود لرونکو پورونو ته راوپاروي. له دې پرته به د مرکزي بانک د سود ټیټه کچه د ملي اقتصاد پر رغونه زیات اغېز ونلري. (هیندلز بلت، ۲۰۱۷).

د اروپا مرکزي بانک د یورو زون په چوکاټ کې له څو کلونو راهیسې خوا زیار باسي چې د سود د نرخ د ټیټې کچې په مرسته د دې ټولنې اقتصاد له بحران څخه وژغوري او د انفلاسیون کچه تر یوه معین حد پورې لوړه کاندي. د دې کار لپاره هره میاشت په میلیاردونو یورو بازار ته عرضه کېږي او د مرکزي بانک د سود د نرخ کچه هم له څو کلونو راهیسې خوا ټیټوي. خو له دې امله د انفلاسیون د لوړېدو او په زیاتو غړو هېوادونو کې د اقتصادي رغونې په اړه نتیجې زیاتې مثبتې نه دي.

اوس مهال د اروپا د مرکزي بانک د سود نرخ صفر پر سلو کې دی. په دې توګه په لومړي سر کې د یورو زون کمزوري ملي اقتصادونه له دې تدابیرو ګټه ترلاسه کوي. له ټولو د مخه له دې امله د دې هېوادونو د پورونو کچه په نسبي توګه کمېږي. د اروپا د هېوادونو په ځینې هېوادونو کې د کار د مؤلدیت کچه ټیټه ده او په نړیوالو بازارونو کې یې د پرمختللو هېوادونو له محصولاتو د سیالۍ کولو وړتیا کمه ده.

د مرکزي بانک د سود د ټیټ نرخ پر مهال د یورو د تبادلې ارزښت هم کمېږي. په دې توګه د یورو د زون په پرمختللو او هم په کمه وده لرونکو هېوادونو کې د صادراتو بیه کمېږي. د دې کار په نتیجه کې صدرات زیاتېږي چې د تولید، مصرف او د ملي اقتصاد پر وده مستقیم اغېز غورځوي. د صادراتو د بیو ټیټېدل په نړیوالو بازارونو کې د هغو هېوادونو د محصولاتو د سیالۍ پیاوړتیا زیاتوي په کومو کې چې د کار مؤلدیت کم دي. څرنګه چې مخکې یادونه وشوه په دې توګه د دې هېوادونو اسمي کورني ناخالص محصولات، اسمي مالیاتي عایدات زیاتېږي او د پورونو کچه ئې په نسبي توګه ټیټېږي.

**د مرکزي بانک د سود د ټیټ نرخ ناوړه پایلې**

د سود د نرخ د ټیټې کچې یوه مهمه ناوړه پایله د سپماکوونکو د پیسو د ارزښت کمېدل دی. هغوی په دې حالت کې د خپلو سپماوو په بدل کې له بانکونو څخه کم سود ترلاسه کوي. له بلې خوا د تقاعد بیمه او یا د ژوند بیمه د سود د ټیټ نرخ پر مهال خپل ارزښت له لاسه ورکوي. په دې توګه وګړي نور نشي کولای چې د خپل تقاعد او بوډاتوب لپاره په پوره اندازه پیسې سپما کاندي، د پیرودنې پیاوړتیا ئې کمېږي، له بېوزلۍ سره مخ کېږی او دا اړیکه په پای کې پر اقتصادی مجموعی غوښتنه او یا تقاضا هم منفي اغېز غورځوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زيات شمېر بانکونو او د بيمو شرکتونو د اوږدمهاله سپماوو لپاره له سپماکوونکو سره د سود ثابتو اوږدمهاله نرخونه په هکله قراردادونه لاسليک کړي دي. که په دې حالت کې د سود د نرخ ټيټه کچه د يوې زياتې مودې لپاره دوام وکړي نو مربوطه بانکونه او د بيمو شرکتونه د افلاس له ګواښ سره مخ کېدای شي چې پايله به يې د وګړو د سپماوو د يوې برخې له منځته تلل او له تقاعد وروسته بېوزلي وي. د بانکونو او بيمو افلاس چې د ژوند او د تقاعد بيمې بازار ته ورانډې کوي په مالي سيستم کې د اختلالاتو لامل هم ګرځي. د سود د نرخ د ټيټې کچې پر مهال به د يوه نوي مالي بحران رامنځته کېدل ډېرې ناوړه پايلې ولري، ځکه چې په دې حالت کې به حکومتونه له دا ډول بحرانونو څخه د ژغورنې لپاره يوه مهمه وسيله چې د مرکزي بانک د سود نرخ د کچې ټيټول دي نور په لاس کې ونلري.

د سود د نرخ ټيټه کچه په هغو هېوادونو کې چې اقتصاد يې پياوړی دی، لکه آلمان، د دولت په بودجه کې د لګښتونو د کچې د کمېدو لامل ګرځي. له مالي بحران وروسته وګړی خپلې سپماووې په داسې ارزښت لرونکيو سندونو کې بندوي چې ناشرين يا مالکين يې د دې سندونو يا پورونو د بياورکولو پياوړتيا ولري. دا ډول سندونه په عمومی توګه د دولتي پورونو سندونه دي، چې د دولتونو له خوا مالي بازارونو ته وړاندې کېږي. په تېرو کلونو کې د آلمان دولتي پورونو سندونو ته غوښتنه په مالي بازارونو کې زياته شوې ده ځکه چې د دې هېواد پر اقتصادي توان د پانګه اچوونکو باور زيات دی.

هرڅومره چې د دې سندونو د بېرته ورکولو پياوړتيا زياته وي په هماغه اندازه يې د سود کچه ټيټه ده. د آلمان حکومت په تېرو کلونو کې په دې توګه په ارزانه توګه پورونه ترلاسه کړل، په بله وينا دا چې د پورونو د سود لګښتونه يې تر ډېرې اندازې کم شول. د آلمان حکومت په ۲۰۰۹ کال کې د ۲۰۱۳ کال د سود لګښت ۵۲ ميليارده يورو اټکل کړی و، په داسې حال کې چې په دې کال کې د دولتي پورونو د سود له امله د لګښت اندازه يوازې ۳۱ ميليارده يورو وه سره له دې چې په دې کلونو کې د دولتي پورونو کچه په محسوسه توګه لوړه شوې وه. (د Wirtschaftsdienst مجله، ۲۰۱۴).

خو د سود د نرخ ټيټه کچه په عين وخت کې د ملي اقتصاد ودې او پرمختګ ته ګواښونه هم رامنځته کوي. له يوې خوا د آلمان په شان په يوه هېواد کې د سود د نرخ د ټيټې کچې له امله د دولت بودجوي لګښتونه کمېږي او په دې توګه د وګړو حقيقي عايدات هم په غېرمستقيمه توګه لوړېږي او له بلې خوا د بنسټيزو او ساختاري اقتصادي ستونزو د پټولو لامل هم ګرځي. ترڅو چې د روانو لګښتونو کچه د سود د نرخ د مساعدې کچې له امله ټيټه وي نو په نورو اقتصادي برخو کې ستونزو او کمښتونو ته پاملرنه کمېږي او يا دا چې هيڅ دول پاملرنه نه ورته کېږي. که په داسې حالت کې د اقتصادي غوښتنو له امله د سود د نرخ کچه لوړه شوله نو له يوې خوا به له دې امله د دولتي پورونو د کم سود امتياز له منځه لاړ شي او له بلې خوا به ساختاري اقتصادي ستونزې هم احتمالاً له پخوا زياتې راڅرګندې شي.

د مرکزي بانکونو د سود ټيټه کچه په ځانګړې توګه په مالي سيستم کې د اختلالاتو لامل ګرځېدلای شي. په آلمان کې د سود د نرخ د ټيټې کچې له امله د غيرمنقولو شتمنيو بيه په ځانګړې توګه د کورونو بيه لوړه شوې ده. د دې کار يو لامل وګړو ته د کورونو د رانيولو لپاره د پورونو ارزانه ترلاسه کول دي. د اروپا د ټولنې له نورو هېوادونو څخه هم په آلمان کې د کورونو د رانيولو لپاره غوښتنه زياته شوې ده. په دې توګه ځمکې او کورونو ته غوښتنه په عمومي ډول زياته شوې ده او ځينې پوهان په دې آند دي چې په نتيجه کې د کورونو د حقيقي او نني ارزښت ترمنځ زيات توپير موجود دی، دا توپير د زياتېدو په حال کې دی، چې په دې سکتور کې يې د يو ډول حباب د رامنځته کولو ګواښ زيات کړی دی. موږ په ۲۰۰۸/۲۰۰۹ کال کې وليدل چې د کورونو په سکتور او هم په مالي سکتور کې د حباب له چاودېدو وروسته نړېوال مالي بحران رامنځته شو، هغه وخت چې بيې ولوېدې او پوراخستونکو د پورونو (چې زياته اندازه يې بې له ضمانت پورونه وو) د بېرته اداکولو پياوړتيا له لاسه ورکړه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ

**پایله**

زما په آند د مرکزي بانکونو د سود ټیټه کچه به په پرمختللو هېوادونو کې تر یوې مودې همداسې پاتې شي، سره له دې چې د امریکا د متحدو ایالتونو مرکزي بانک په تېرو میاشتو کې د سود د نرخ کچه څو ځلې لوړه کړه او په پام کې لري چې په راتلونکي کال کې به یې نوره هم لوړه کړي، خو د امریکې د نوي ولسمشر ټرامپ د ویناوو له مخې د دې شونتیا موجوده ده چې د دې هېواد ملي اقتصاد په منځمهاله او اوږد مهاله توګه له جدي ستونزو سره مخ شي، سره له دې چې د دولتي لګښتونو د زیاتېدو او د دې ترڅنګه د مالیاتو کمول به په لنډ مهاله توګه د دې هېواد د ملي اقتصاد د ودې لامل وګرځي. زه به زیار وباسم چې دا خبره په خپله یوه بله لیکنه کې وڅېړم. په دې ځای کې باید وویل شي چې په امریکې کې د مرکزي بانک د سود کچه د ملي اقتصاد له ودې سره سمه لوړه شوله. په بل عبارت د مرکزي بانکونو د سود د نرخ د لوړولو لپاره باید په لومړي سر کې اقتصادي وده په روښانه توګه محسوسه وي.

په اروپا کې د ودې عمومي کچه لا تراوسه هم ټیټه ده، د انفلاسیون کچه په مطلوبه توګه لوړه نه ده. د اروپا په ټولنه کې د انفلاسیون کچه تېر کال له ټولو د مخه د نفتو د بیې د ټیټیدو له امله زیاته شوه. دا په دې معنی ده چې په ملي اقتصاد کې مجموعی غوښتنه په متناسبه توګه لوړه شوې نه ده. د ۲۰۱۵ کال د دسمبر په میاشت کې د اروپا په ټولنه کې د انفلاسیون کچه ۰،۲٪ وه او د ۲۰۱۶ کال په همدې میاشت کې ۱،۲٪ وه. د دې ټولنې د هېوادونو ترمنځ زیات توپیرونه موجود دی. د ټولنې د منفردو هېوادونو د انفلاسیون کچه د ۲۰۱۶ کال د دسمبر په میاشت کې د ـ۰،۶ او ۲،۴٪ ترمنځ وه. په ځانګړې توګه د دې ټولنې په ځینو پیاوړو اقتصادونو کې لکه ایتالیا (۰،۵٪)، فرانسه (۰،۸٪) او نیدرلند (۰،۷٪) کې د سود د نرخ کچه لاهم زیاته ټیټه ده (Statista، ۲۰۱۷).

په پرمختللو هېوادونو کې د سود د نرخ ټیټه کچه د دې لامل ګرځي چې د پانګو یوه برخه له دې هېوادونو څخه د درشلیزو هېوادونو په لور وخوځیږی. په تېرو کلونو کې په امریکا او لوېدیځه اروپا کې د سود د نرخ د ټیټې کچې له امله پانګوالو خپله زیاته اندازه پانګه درشلیزو هېوادونو ته انتقال کړه ځکه چې په دې هېوادونو کې د سود د نرخ کچه په نسبي توګه لوړه وه. ځینې اقتصاد پوهان په دې آند دي چې د دې کار په پایله کې د درشلیزو هېوادونو په ملي اقتصادونو کې یو ډول اقتصادي تړاو یا وابستګي رامنځته شوې ده. له هغې وروسته چې د امریکې مرکزي بانک د سود د نرخ کچه لوړه کړه، د درشلیزو هېوادونو ملي سکې تر فشار لاندې راغلې او خپل ارزښت یې تر زیاته حده له لاسه ورکړ. په دې توګه وېلای شو چې په لوېدیځه نړۍ کې د مرکزي بانکونو د سود د نرخ د کچې په لوړېدو سره به پانګه له درشلیزو هېوادونو څخه هغو هېوادونو ته جریان ومومي په کومو کې چې د سود کچه لوړه ده. له دې امله به درشلیز هېوادونه په راتلونکې کې له جدي اقتصادي ستونزو سره مخ شي.

د مرکزي بانکونو د سود د ټیټې کچې له امله په ځانګړې توګه په درشلیزو او مخ پرودې هېوادونو کې د پورونو د زیاتېدو ګواښ هم رامنځته کیږي. په تېرو کلونو کې زیات شمېر مخ پرودو هېوادونو د پورونو د ارزانتیا له امله د خپلو بهرنیو پورونو کچه زیاته کې ده. که دا پورونه په اقتصادي برخو کې په ښه توګه وکارول شي نو د هېواد د ملي اقتصاد ودې او پرمختګ ته به ګټه ورسوي. خو د مخ پروړاندې هېوادونو تجربې ښکاره کوي چې په دې هېوادونو کې د اداري فساد، فني او مسلکي کادرونو د نشتوالي او هم په نړیوالو سوداګریزو اړیکو کې د دې هېوادونو د نابرابره ونډې له امله له محدودو مالي وسیلو څخه د اقتصادونو د رغونې لپاره په سمه او اقتصادي توګه کار نه اخستل کیږي. له همدې امله به په دغو هېوادونو کې د اخستل شوو پورونو بېرته اداکول، په خاصه توګه د سود د نرخ د کچې له لوړېدو وروسته، ګران کار وي او د هغوی اقتصادي او ټولنیزې ستونزې به لا نورې هم زیاتې کاندي. همدا اوس هم یو شمېر وروسته پاتې هېوادونه د دولتي افلاس له جدي ګواښ سره مخ دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**منابع:**

١ -فينانس نيت دي يي finanznet.de ، د مرکزي بانک اوسنی سود، ٢٠١۶(Aktueller Leitzins)
(در خط), اینجا ببینید: http://www.finanzen.net/leitzins/
(تاریخ دسترسی: ١۵/٠١/٢٠١٧)

٢ -شتيفان کایزر، شپیگل آن لاین Spiegel online، سود نرى ته په څه ډول بدلون ورکوي، ٢٠١۶(Wie Zinsen die Welt verändern)
(در خط), اینجا ببینید: http://www.spiegel.de/wirtschaft/zinsen-wie-fed-und-ezb-die-wirtschaft-beeinflussen-a-1067806.html#sponfakt=1
(تاریخ دسترسی: ١۵/٠١/٢٠١٧)

٣ -هيندلز بلټ Handelsblatt ، انفلاسیون او ټيټ سود، ٢٠١٧(Inflation und niedrige Zinsen)
(در خط), اینجا ببینید: http://www.handelsblatt.com/politik/konjunktur/euro-rettung-inflation-und-niedrige-zinsen/8013194-2.html
(تاریخ دسترسی: ١۵/٠١/٢٠١٧)

۴ -ويرتشافتس دينست مجله Wirtschaftsdienst ، ټيټ سود، د هغه اقتصادي لاملونه او پايلي، ٢٠١۴،
(Niedrige Zinsen – gesamtwirtschaftliche Ursachen und Folgen)
(در خط), اینجا ببینید: http://archiv.wirtschaftsdienst.eu/jahr/2014/9/niedrige-zinsen-gesamtwirtschaftliche-ursachen-und-folgen/#res1
(تاریخ دسترسی: ١۵/٠١/٢٠١٧)

۵ - شتاتيستا Statista ، د اروپا د ټولني په غړو هيوادونو کي د ٢٠١۶ کال د دسمبر په مياشت کي د تير کال په پرتله د انفلاسيون کچه ، ٢٠١۶
(Europäische Union: Inflationsraten in den Mitgliedsstaaten im Dezember 2016 (gegenüber dem Vorjahresmonat)

(در خط), اینجا ببینید: https://de.statista.com/statistik/daten/studie/217052/umfrage/inflationsraten-in-den-laendern-der-eu-monatswerte/
(تاریخ دسترسی: ١۵/٠١/٢٠١٧)

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ